# سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ». "خپل صفونه برابر کړئ، ځکه د صف برابرول د لمانځه له بشپړتيا څخه دي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصَّفِّ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ». "خپل صفونه برابر کړئ، ځکه د صف برابرول د لمانځه له بشپړتيا څخه دي".

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم لمونځ کوونکو ته امر کوي چې خپل صفونه سم کړي او تېر او بېر سره ونه درېږي او دا چې د صفونو سموالی د لمانځه له بشپړتيا او کمال څخه دي، او د صف په ګوړوالي کې ګډوډي او نېمګړتيا ده.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3031